ليکوال: هانس کریستیان اندرسن ۲۰۱۵/۱۱/۲۲

ژباړن: آصف بهاند

# وړوکی کلاوس او لوی کلاوس

## (Lille Claus og stor Claus)

### دویمه برخه

بزګر پوښتنه وکړه:«ته فکر کوې چې دا به شيطان باندې جادو وکړای شي؟ اوس چې زه بنه يم، بده نه را باندې لګي چې و وينم چې شيطان څه ډول څيره لري.»
واړه کلاوس و ويل:«ولې نه، کوډګر ته چې زه هر څه و وايم، هغه را ته کوي، همداسې نه ده؟»
او بيا يې خپله پښه پر توبرې باندې کېښکوډله چې غږ وکړي، بيا يې بزګر ته مخ ور واړاوه او په خندا يې ور ته و ويل:«وا دې نه وريدل چې هوکې يې و ويلې؟ خو شيطان داسې څيره او بده څيره لري چې په ليدلو نه ارزي.»
بزګر و ويل:«زه نه ډاريږم.»
او بيا يې پو ښتنه وکړه:«هغه به څنګه ډارونکې او خومره وحشتناکه وي؟»
واړه کلاوس و ويل:«هغه د کليسا کارکونکې يا د کشيش مرستيال ته ورته دی!»
بزګر را تاو شو:«اوف ... دا خو له هغه څه هم بد دی چې ما يې فکر کاوه. بايد په زغرده و وايم چې د کليسا د کارکونکې يا د کشيش د مرستيال څيره نه شم ليدلای. خو اوس چې پوهيږم چې يوازې شيطان ته ګورم، کيدای شي ليدل يې وزغمم. اوس يې د ليدلو زړورتيا لرم، خو پرې نه ږدې چې را نږدې شي.»
وړوکې کلاوس و ويل:«زه به خپل کوډ ګر و پوښتم.»
واړه کلاوس بيا خپله پښه پر توبرې باندې کېښکوډله او بيا يې خپل سر داسې کوږ کړ لکه د چا خبرې ته چې غوږ نيسي.
بزګر پوښتنه وکړه:«هغه څه وايي؟»
وړوکې کلاوس په ځواب کې ور ته و ويل:«هغه وايي چې که موږ د کوټې په څنډه کې د اېښې صندوق سر خلاص کړو، نو شيطان به د دوو پښو پر سر ناست په کې وګورو، خو بايد د صندوق سر ډير خلاص کړای نه شي چې شيطان و نه تښتي.»
بزګر د صنوق په لوري ورغی، خپلې ميرمنې او کلاوس ته يې و ويل:«کله چې زه صندوق خلاصوم، د هغه په ټينګولو کې له ما سره مرسته وکړئ.»
د کشيش مرستيال له ډاره ريږديده. بزګر څنګه چې د صندوق سر لږ بيرته کړ او سترګې يې پر ده ولګيدې، جګ والوت، چيغه يې کړه او د صندوق سر يې بيرته کېښود او وې ويل:«آه، هغه مې وليد، هغه بيخي زموږ د کليسا د کشيش مرستيال غوندې دی، عجيبه ډارونکې څيره لري!»
د داسې يو څه له ليدلو نه وروسته سرې بايد شراب وڅښي. واړه کلاوس او بزګر د شپې تر نا وخته پورې جامونه پر سر اړول او په پای کې بزګر و ويل:«ته بايد دا کوډګر پر ما خرڅ کړې، په بدل کې يې چې هر څه غواړې، و وايه، هوکې زه به همدا اوس تا ته يوه ډکه پيمانه پيسې درکړم.»
واړه کلاوس و ويل:«نه، زه داسې نه شم کولای. ته خپله اټکل وکړه چې زه له دې کوډګر نه څومره استفاده کولای شم.»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

بزګر ټینګار وکړ:«خو زه د زړه له کومې هغه غواړم.»
او دومره ټینګار يې وکړ چې په پای کې کلاوس د ورکړې رضايت وښود.
واړه کلاوس و ویل:«زه دا نه شم هیرولای چې تا ما ته د شپې تیرولو له پاره ځای راکړ، نه کولای شې چې دا کوډګر د يو پیمانه پيسو په بدل کې واخلې، خو باید پیمانه تر خولې پورې له پیسو ډکه وي.»
بزګر ور غبرګه کړه:«حتماً به پیمانه تر خولې پورې ډکه کړم، خو دا صنوق به ته له ځان سره وړې، زه نه غواړم چې نور دا صندوق يو ساعت هم په خپل کور کې و ساتم، ځوک څه پوهیږي، اوس به هم شیطان په کې ناست وي.»
وړوکي کلاوس توبره، چې د آس وچ پوستکی په کې و، بزګر ته ورکړه او په بدل کې يې نه يوازې يوه ډکه پیمانه پیسې واخیستې، ور سره يې يو صنوق او يوه لاسي کراچۍ هم تر لاسه کړل او د خدای په امانی په ویلو سره، په خپله مخه ولاړ.
د ځنګله په خوا کې ژور رود روان و. دا رود دومره توند روان و چې چا نه شوای کولای چې په مخالف لوري په کې په لمبلو سره حرکت وکړي، خو له رود نه باید تیر شوی وای او د تیریدو له پاره د رود پر سر يو پُل جوړ کړای شوی و. کله چې وړوکی کلاوس د پله منځوی برخې ته ورسید، په داسي لوړ غږ ـ چې د صندوق په منځ کې د کشیش پټ شوي مرستیال اوریده ـ له ځان سره و ویل:«د دې بیکاره صندوق د وړلو ګټه به څه وي؟ داسي درونددی لکه له تیږو چې ډک وي، ډیر يې ستړی کړم، پوهیږم چې څه ور باندې وکړم، صندوق به سیند به وغورځوم، که اوبو تر کور پورې را ته ورساوه، ډیر به ښه شي او کنه، هیڅ مهمه نه ده.»
بیا يې صندوق ته لاس کړ او داسي يې ټکان ورکړ چې ته وا له لاسي کراچۍ نه يې اخلي او اوبو ته يې غورځوي.
د کلیسا کار کونکي د صندوق له منځ نه چغه کړه:« نه، ودریږه! پرې مې ږده چې د باندې را و وزم! هیله کوم، پرېمیږده چې د باندې را و وزم!»
واړه کلاوس په یوې چغې سره داسي وښوده چې ډار شوی دی او وې ویل:«اوه دا څه دي، د صندوق په منځ کې خو شیطان دی، ښه به دا وي چې اوبو ته يې وغورځوم چې ډوب شي.»
د کلیسا کار کونکي په لوړ آواز غږ وکړ:«نه! نه! که مې پریږدې چې د باندې را و وزم، زه به تا ته يوه ډکه پیمانه پیسې درکړم!»
واړه کلاوس و ویل:«دا سمه خبره ده!» او د صندوق ور يې پرانست. د کشیش مرستیال له صندوق نه را ووت او صندوق يې سیند ته ور وغورځاوه او دواړه د کلیسا د کار کونکي د کور پر خوا رهي شول او په خپل کور کې يې کلاوس ته د پیسو ډکه پیمانه ور کړه. اوس وړوکی کلاوس له يو کراچۍ پیسو سره د خپل کور پرخوا روان و.
واړه کلاوس راوړې پیسې د خپل کور په غولي و غوړولې او وې ویل:«د آس په بدل کې ښې پیسې په لاس راغلې!»
او بیا يې پسې و ویل:«ځومره ډیرې دي، که لوی کلاوس پوه شي چې زه د خپل آس له درکه ځومره شتمن شوی یم، سودا به يې شي، زه نه ور ته وایم، پریږده چې خپله پوه شي.»
ځو شیبې وروسته يې يو هلک د لوی کلاوس کور ته ور ولیږه او هیله يې ور نه وکړه چې که کولای شي خپله د غلو دانو د پیمانه کولو لوښی امانت ورکړي. لوی کلاوس له ځان سره و ویل:«حیران یم، دا پیمانه د څه له پاره غواړي!» او د دې له پاره چې د ده د کار په راز باندې پوه شي، د پیمانې په لاندنی برخې باندې يې لږ قیر وسولاوه. دې کار هوښیارتیا غوښته او کله يې چې پیمانه بیرته راوړه، په لاندنی برخې پورې يې د سپینو زرو دوې سکې نښتې وې.
لوی کلاوس چیغه کړه:«څه،یعنې څه!» او په ډیره بیړه يې د واړه کلاوس د کور پر لوري منډې کړې. کله يې چې وړوکی کلاوس د خپلو سکو په منځ کې ولید، په لا لوړ غږ يې نارې کړې:«دا ټولې پیسې دې له کوم ځای نه تر لاسه کړې؟»
ـ «اوه، د آس له څرمنې، پرون ماښام مې هغه خرڅ کړ.»
ـ «په رښتیا ښې پیسې دې اخیستي دي،»
لوی کلاوس دا و ویل او په بیړه د خپل کور په لوري رهي شو. تبر يې را واخست او خپل څلور واړه آسان يې و وژل، بیا يې هغه له پوسته کړل او د آسانو له پوستکو سره د ښار په لوري رهي شو.
لوی کلاوس ښار په ښار وګرځید او په کوڅو کې يې نارې وهلې: د خرڅلاو له پاره څرمن، څرمن د خرڅلاو له پاره! ځوک غواړي څرمن واخلي؟»
ټول موچیان او د څرمنو کاروباریان له خپلو دکانونو نه د باندې را و وتل چې د څرمنو د بیې پوښتنه وکړي. هغه ور ته و ویل:«د هرې څرمنې بیه يوه ډکه پیمانه سکې.»
ټولو په يوه غږ سره نارې کړې:«ته لیونی يې! ته فکر کوې چې موږ پیسې په پیمانې شمیرو؟»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ

خو لوی کلاوس ناري وهلي:«څرمن د خرڅلاو له پاره، د خرڅلاو له پاره څرمن!» که چا به د بيي پوښتنه کوله، ده به بيا په ځواب کي ويل:«يوه ډکه پيمانه سکي.»
موچيانو او د څرمنو کاروباريانو ناري کړې:«دی غواړي چي په موږ ريشخند و وهي.»
ډير خلک ور نه را تاو شول، موچيانو او د څرمنو کاروباريانو خپلي تسمي او نور چرمي شيان پسي را واخستل او د لوی کلاوس په وهلو يي پيل وکړ: وهه چي نه وهي! د څرمنو يو کار و باري ناري وهلي:«اوس به داسي څرمن در وښيو چي خوند در کړي!»
ټولو ناري وهلي:«له ښاره و وزه!»
د لوی کلاوس له پاره تر ټولو ښه لار دا وه چي په بيړه له ښار نه و وزي. هغه په ټول ژوند کي داسي نه و وهل شوی.
کله چي لوی کلاوس بيرته کورته ورسيد، له ځان سره يي و ويل:«زه به له واړه کلاوس سره ګورم، د همدې له پاره به يي و وژنم.»
کله چي لوی کلاوس په ښار کي و، بده پيښه وشوه، د واړه کلاوس نيا مړه شوه. سره له دې چي د واړه کلاوس نيا يوه عصبي، نا مهربانه او خطرناکه ښځه وه، خودی ډير ور باندي خپه شو او داسي يي و انګيرله چي که نيا په خپله توده بستره کي کيږدي، بيرته به را ژوندۍ شي. ځکه يي پريښوده چي ټوله شپه هغه د کلاوس په بستره کي پاتي شي او له دې کار سره خپله کلاوس اړ و چي پر چوکۍ د پاسه ويده شي.
دا لومړی ځل نه و چي وړوکی کلاوس اړ کيده چي پر چوکۍ د پاسه ويده شي، خو له دې سره يي هم خوب و نه شو کړای. دی ويښ و چي لوی کلاوس کوټي ته را ننوت او د پښو په څوکه ورو ورو د ده د کټ خوا ته ورغی. لوی کلاوس فکر کاوه چي وړوکی کلاس پر خپل ځای ويده دی. لوی کلاوس په خپل ټول زور سره تبر د واړه کلاوس د نيا پر تندي باندې ور حواله کړ او ور سره جوخت يي و ويل:«نو ګوره، نور ته نه شي کولای چي داسي ريشخند و وهي!» او ايسته خپل کور ته ولاړ.
د دويمي برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ